
د مینانو پیر!
Ketabton.com
ناول
لیکوال:سیدادریس سادات
ډیزاین: د ښار هلک
0731363201

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم.

د کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| نوم. | د مینانو پیر (ناول) |
| لیکوال. | سیدادریس(سادات) |
| ډیزاین. | سیدادریس (سادات) |
| شماره. | ۰۷۳۱۳۶۳۲۰۱ |
| د ټلګرام چینل. | https://t.me/sadatketabtoon |
| سادات ګروپ . | ttps://chat.whatsapp.com/KXxowf0dlHRDKR |

که چیرې تاسې هم خپل کتاب ته ډیزاین ورکوی نو له موږ سره په لاندې شمارو اړیکه ونیسی...

0731363201

AS

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**خپلو ټولو هغو مینوالو ته دې زما دغه کتاب ډالۍ وي، چې زما هره کیسه که هغه په فیسبوک کې وي یا په کوم بل ځای کې تعقیبوي یې.**

**او په بې صبرۍ یې یې هرې برخې ته په انتظار وي.**

**تاسې کولای شئ زما د هر کتاب معلومات زما د فیسبوک ایډي څخه ترلاسه کړئ.**

**!!!**

**said adrees sadat**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د ښاره لرې په غره کې دوه ورونه اوسېدل.

د دوي وظیفه دا وه، چې د خلکو کورونو ته به ورتلل.

او چې د هر چا په کور کې به جنات ول، نو هغه به یې ترې وباسل.

دوي په اصل کې د مینانو بابا زامن وو.

چې د پلار څخه ورته ډېر څه پاتې وو، تر څو ګټه ورنه واخلي.

لکه کتابونه او داسې نسخې چې کولای شي په یو انسان جنات کینوي،

او یا یې ورڅخه پاڅوي.

دا هلکان پخپل کار کې ډېر ماهره وو.

یو یې ساحل نومېده، چې په ځوانۍ کې به خلکو ورته بابا ویلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بل د ده کوچنی ورور وو.

سبحان

سبحان زما ډېر خوږ ملګری و .

یوه ورځ موږ ټول بامیانو ته په چکر تلو، تر څو د بودا د ستر بوت ننداره وکړو.

د حکمت په موټر کې ناست وو.

د هغې موټر تور رنګ لري.

خلک هغې موټرو ته کراس روډ موټر وایي.

تر دې وخته خو مو په ګاډي کې سندره چالانه کړې وه.

خو سبحان یو دم ګډ وډ شو.

نه پوهېږم څه پرې وشول، خو بدن یې رپا پیل کړه.

سترګې یې سرې او سپینې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمت ته مو وویل:

هلکه حکمته موټر ودروه.

حکمت وویل:

یاره چڼیي ده.

موټر ځنګه پکې ودروم.

مسیح ورته وویل:

ته په بریک پښه کیده په بریک پې پښه کیښوده.

مسیح هن بریک کش کړ.

سبحان مو له موټره بیرون ته راوباسه.

هغه لږ څه ارامه شو.

اخر خپل عادي حالات ته راغی.

ټول موټر کې کیناستو.

سبحان نه مو د دې هر څه علت وپوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ماته وکتل.

او ویې ویل:

یاره څه پرې کوې دا اوږدې کیسې دي.

ما ورته وویل:

نه دا به راته وایې چې هر څنګه وي اورم یې.

هغه ډېر ټینګار وکړ.

خو اخر یې هم کیسه شروع کړه.

ټول ملګري د سبحان کیسې ته غوږ شو او هغه د سکون په اخیري حد کې کیسه دغسې شروع کړه.

زما پلار په کلي کې د مینانو په پیر مشهور وو.

هغه به لومړی دوه مین د خپلو تعویزونو په حکمت سره یو ځای کول.

دا وخت حکمت پرې راټوپ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څه واېې یاره.

نو بیا خو به تا هم ترې ضرور یو څه زده کړي وي.

نو ته وګوره کنه یاره.

که چیرې زما او د اسیه کار وشي.

ما ورته وویل:

یاره ته پرېږده چې سبحان کیسه وکړي.

ټول هلکان په سفر کې ډېر ستړي وو.

ماته یې وویل:

یاره ستړي یو.

سندره به واورو.

ته څه کوې یاره هر سړی چې وګورې په کیسه یې بیا مفته ناول جوړوې.

او څوک یې درته چاپوي هم نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاش چې چا خو درته چاپولای، کم از کم یو څه نفرو خو به لوسته.

یاره دا افغانان دي.

د خدمت په قدر نه پوهیږي.

چیرې خپل شخصي کاروبار وکه.

ماورته وویل:

یاره یوه ورځ به مو خدای دې زحمت ته وګوري.

او انشاء الله چې کتاب به هم چاپ شي.

ټولو وخندل.

ویل یې :

ته لیونی یې دومره خواري کوې د خپلو هېوادوالو لپاره او هېڅ مزد یې نه درسیږي.

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يارانو دې هېواد پوره دولس کاله وړيا روزلی يم.
دومره حق يې راباندې کيږي.
تاسې چپ شئ،ياره چې کيسه واورو.

سبحان کيسه شروع کړه.
سبحان وويل:
پلار مې له هغې څخه وروسته بس د مينانو په پير مشهور شو.
د پلار کيسې ته مې وروسته راځم.
يوه ورځ ما او ساحل يوه کور ته ولاړو.
د دې کور مشر ويل چې پدې کور کې پيريان دي.
او زما لور يې نيولې ده.
خير دی مرسته راسره وکړۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وویل:

اکا جانه ته هیڅ فکر مکوه.

مور چې هر ځای ته تللي یو .

له هغه ځایه مو هر ډول جادو او جنات وباسلي.

تاسې بیخي بې غمه شئ.

مور لدې شیانو سره بلد وو.

ځکه بغیر له ویرې په کور ورننوتو.

خو پدې خبر نه وو، چې وروسته به څه کیږي.

ما ساحل ته وویل:

ګوره وروره هره پیښه داسې هم نشي کیدای.

چې چا په ځان په زوره پیریان راوستي وي.

ګوره هڅې نه چې د پلار له نوم څخه په استفادې یوه ورځ په اصلي پیریانو واوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحل وویل:

یاره ته اوس هم پدې شیانو باور کوې .

داسې هیڅ هم په دنیا نشته.

بابا هم زموږ په خیر خالي خلک دوکه کول.

ته ولې نه پوهیږې یاره!

دې کور ته ورننوتو.

د کور ټول سامان په بل مخ اوړیدلي وو.

شړۍ کمپلې او د کور ټول لوازم ګډ وډ پراته وو.

پدې کور کې زیړ څراغ بل وو.

زه ویریدم.

ځکه زه پوهیدم، چې ضرور جنات په دنیا کې شته.

ساحل لالا مخکې وو.

زه وریسې په کلاره کلاره ورتلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحل مخ راواړوو.

هر کله چې یې زما حالت ولید.

ویې ویل:

وه زما ساده وروركه.

هیڅ نشته.

دا ټول د پیریانو کیسې او هر څه درواغ دي.

ته ما پسې ډاده ډاډه رازه.

ما ورته وویل:

سمه ده لالا

ساحل مخکې وو.

زه ورپسې وم چې یو دم راباندې برید وشو.

ما نور هیڅ محسوس نکړل.

خو بې هوښه شوې وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وخت راباندې یو چا اوبه واچولې.

چې راپاڅیدم.

ومې لیدل چې ساحل لالا وو.

ویل یې:

وګوره زما نیازبینه وروركه.

دا دې بله درواغجنه پیښه .

انجلۍ یې په کټ پورې تړلې وه .

ویل یې:

خیر دی ماسره مرسته وکړی .

ساحل ورته وویل:

ته به موږ سره مرسته وکړې موږ به له تا سره مرسته وکړو.

حساب به برابر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجلۍ ومنله.

د دې کلي ټول خلک راغونډ شول.

ما انجلۍ بیرون راوباسله.

هغې خپل پیراني اعمال کول.

بس ورته مو وویل:

ته څه غواړې له دې معصومې انجلۍ څخه!

ویل یې.

زه غواړم چې دغه انجلۍ هیڅکله هم واده ونکړي او باید تعلیم وکړي.

کنه.

نه دغه انجلۍ پریږدم او نه یې هم مور او پلار پریږدم.

ټول به ووژنم.

پلار چې یې خبرې واوریدې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې ويل:

زه هيڅ کار نلرم.

زما لور دې خالي جوړه شي او تعليم دې وکړي.

دا زموږ لپاره هر څه دي.

پلار يې وعده وکړه.

او له انجلۍ څخه مصنوعي پيريان ووتل.

موږ داسې په سلونو او په زرونو ستونزې حل کړي وې.

پدې ورځ ما او ساحل ورور خپل هاغه بس ته راغلو چې د مينانو بابا زامن ،

دا يې پرې غټ غټ ليکلي وو.

ښه وو.

ښه روزګار وو، زه نه پوهيږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مور ګنا ګڼلې که ثواب ماته یې وویل:

ادریسه یاره ته راته ووایه.

ته خو قاري یې .

آیا!

مور ډیر ګناهګاران یو؟

ما ورته وویل:

یاره زه خو څه مفتي نه یم چې فتوی پرې ورکړم.

خو ته کیسه کوه.

ټول هلکان سبحان ته غوږ و.

سبحان وویل:

یاره حکمته موټر ته دې خیال کوه هڅې نه خدای نا خواسته چېرته یې ونه جنګوې.

حکمت ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاره ته کیسه کوه.

ډیر ښکلي ځای ته رسیدلی یې.

موټر زما لاس کې دی.

انشا الله څه نه کیږي.

سبحان خپله کیسه بیا شروع کړه.

پدې ورځ موږ خپل زیارت ته راوګرځیدو، هغه زیارت ته چې خلکو به ورته هغه افراد راوستل.

چې یا به پرې جنات ناست وو، او یا به لیونی شوی وو.

خلکو خپل مریضان په زنځیرونو او پړو تړلي وو.

دغه ځای ته به یې په وهلو وهلو راوستل، دلته ټول لیونیان وو.

او هر نفر چې به پیریانو نیولی وو، دلته به خاص ما او ورور ساحل ته راوستل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زموږ له نامه څخه په ګټه اخیستنې په دغه ځای کې ډیرو نورو خلکو هم کار کاوه.

چې موږ ته به یې مزد راکاوه.

دغه ځای ټول په داسې کیسو ډک وو.

چې یوه یې هم ریښتیا نه وه.

ځکه ساحل ورور پدې شیانو باور هم نه کاوه.

هر لیونی چې به راغی دلته به اوسېده، او خلکو به دغه فکر کاوه.

چې دا لیوني هم د شیخ چلي بابا د زامنو لارښوونې ته اړتیا لري.

خو زما ښه پوره باور وو.

چې پدې دنیا کې پیریان شته ځکه چې ما پخپلو سترګو لیدلي وو.

خو ساحل به ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ پلار ته یې ځکه شیخ چلي وایه چې هغه به هر چا سره د چل او دوکې څخه کټه اخیسته.

دغه ځای چې موږ ورکې د لیونیانو او پیري لرونکو خلکو سره یو ځای اوسیدؤ.

دي ته به خلکو د شیخ چلي بابا زیارت وایه.

یوه ورځ د شیخ چلي بابا زیارت ته یوه ښکلې پیغله راننوته!

تورو ګڼو ویختانو یې په سپین جبین ټالۍ وهلې.

په سپین مخ یې د غم خوله راماته وه.

داسې ښکاریده، لکه د لمر نه چې ډیره زیاته پعذابه وي.

هرې خواته یې وارخطا وارخطا کتل!

له نوي نوکر حارث څخه یې د چغو څخه په ډک میدان کې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



درووره دا د مينانو د پير زامن چيرې کښيني؟

که ځاى يې راوخايې ډير به خوشحاله شم.

حارث ها خوا د يخوا وکتل!

چې په ما يې نظر ولګېد.

او زه يې وروخوولم.

د لږ ځنډ څخه وروسته ښکلې انجلۍ زما و خوا ته راغله.

انجلۍ راته لاس را اوږد کړ.

او ويې ويل:

سلام.

آيا! تاسې د مينانو بابا فرزند ياست.

ما ورته وويل:

هو ميرمنې، مهرباني وکړۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل یې:

زما ستونزه ډېره لویه ده.

که چیرې د ناستې ځای وي، او کښینو دا به ښه راشي.

تر اوسه خو مې چاته د ناستې بلنه نه وه ورکړې.

خو دېته مې  ورکړه.

دواړه سره کیناستو،

انجلۍ وویل:

زما پلار ماته یوه فابریکه پریښې، چې په هغې کې ضعفران جوړیږي.

او په ټول کلي کې همدا یوه فابریکه ده.

او د دې کلي په ټولو پټو کې ضعفران کرل کیږي.

ته خبر یې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نن څخه سل کاله پخوا دلته یو پیری راوتی وو.

چې پیچ کونډي به یې ورته وایه.

د دې ځای یو مشر سپین ږیري ماته وویل:

دغه پیچ کونډي د نن څخه سل کاله پخوا د مینانو بابا له منځه وړې وه.

خو هغه اوس بیا راپیدا شوې.

او زموږ د سیمې ټول خلک ترې بیریږي.

هغه پیچ کونډي زموږ د کلې اکثرو خلکو محسوس کړې.

ما ترې پوښتنه وکړه:

آیا تاسې دغه پیچ کونډی لیدلی ده؟

ویل یې نه.

خو یو وخت د شپې ناوخته له فابریکې راووتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هغه محسوس کړه.

هغه راپسې وه، ما د هغې قدمونه هم محسوس کړل.

ما یو دم منډه کړه.

او ځان مې په منډه کور ته ورساوه.

شکر په هغې شپه ترې خدای بچ کړم.

زه ورور ساحل پسې ولاړم.

هغې ته مې د انجلۍ کیسه وکړه.

ویل یې:

نو د څه لپاره یې ځنډوې.

موږ په خپل بس کې د انجلۍ سره د هغه و کلي ته روان شو.

د هغه انجلۍ کلي ته ډیره زیاته لاره وه.

خو اخر ور ورسیدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نه پوهیږم.

خو دغه کلی له ورایه ډیر خوف ناک معلومېده.

ښکلې منظرې یې درلودې.

لکه ګودرونه، مستې پیغلې، مغروره ځوانان او مجبوره خانان

او ما هم له پلاره اوریدلي وو، چې داسې پیریان شته چې په ګڼو بوټو کې پاتې کیږي.

ځکه نو لدې ځای څخه مې ډېره ویره وشوه.

دغه کلی خپل پلار و دغه انجلۍ ته په میراث پریښی وو.

زما له انجلۍ څخه هېڅ سترګې نه اوړیدې.

خو زه پدې ویریدم چې دلته خو ضرور په ریښتیا یو څه شته.

ځکه چې بابا له منځه وړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ورور ساحل بیا هم لکه د پخوا په څېر ډاډ راکاوه.

انجلۍ د ټول کلي خلک راغونډ کړل.

دا مهال ورسره یوه بله پیغله هم راښکاره شوه.

د ساحل نظر يې جلب کړ.

فکر کووم.

په دا وخت د هغې ژبه ودریده.

ماته يې وویل:

چې ته خبرې ورته وکړه.

خو زما څه ذهن ته رانغلل.

ځکه تسمیم مې د خبرو کولو نیولی نه وو.

ما فکر کاوه چې اوس څه ورته ووایم.

چې ساحل شروع شو.

د کلي ټولو او محترمو او معززو ورورنو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامونه او احترامات قبول کړی.

دا چې پدې کلي کې د پیچ کونډي اوازه ګډه شوې.

نو تاسې خوشحاله شئ ځکه چې د پیچ کونډي څخه ژغورونکي ستاسې و کلي ته راغلي دي.

مور. د مینانو بابا زامن یو.

هغه بابا چې له نن څخه سل کاله پخوا یې لدې کلي څخه پیچ کونډي شړلې وه.

او اوس به یې د هغه زامن ساحل او سبحان شړي.

زه دا مهال پیچ کونډي ته اخطار کووم.

چې ای پیچ کونډي!

راشه دلته د شیخ چلي بابا زامن راغلي.

زه ګورم چې لدې وروسته ته دا خلک څنګه پعذابوې.

ټولو خلکو ته یې ډاډ ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شپه شوه.

د کلي غوث الدين ماما چې وروسته یې ماته کیسه وکړه داسې وایې:

په همدغه شپه زه د خپلې میرمنې سره راووتم.

چې د کلي څخه بهر په پټو کې خپله ګیډه تشه کړم.

څانته له پیچ کونډي څخه ویریدم.

ځکه مې خپله میرمن هم له ځانه سره راوباسله.

خدای شته په پټو کې راته میرمنې دا هم وویل:

چې کمه خوره کنه.

که اوس دې پیچ کونډي ونیسي بیا به دې ترې څوک خلاصوي.

مور د کلي د اخیري سر تشناب ته ورسیدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه تشناب ته ننوتم.

خو يوازې ويريدم.

ځکه مې ميرمن ته وويل:

چې سندره راته ووايې.

هغه هم شروع شوه.

او ښه په خوند يې دا سندره راته ويله.

غوړ غوړ ومه چې غلى غلى يار غړيده.

په زړه کې مې نرى نرى ستار غړيده.

چې يو دم يې د لرې ځايه څه ولیدل.

سندره يې غلې شوه.

ما ورپسې ډير آوازونه وکړل.

خو ځواب يې رانکړ.

چې بيرون راووتم ميرمن مې نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم په منډه و خپل کور ته ځان ورساوه.

او د هغې ښځه وروسته ما خپله میرمن نده لیدلې.

خدای خبر په هغې به پیچ کونډې څه کړې وي.

دې مشر راته ویل:

بچیانو!

آیا تاسې به له پیچ کوني ښځه زما میرمن آزاده کړۍ.

ساحل بیا ورته خپلې پخوانۍ ویناوې شروع کړې.

خو ما يې خبره ونیوه.

او مشر ته مې وویل:

کاکا جانه !

تاسې پر ما باور ولرۍ انشالله

لدې کلي ښځه به موږ دغه بده بلا ضرور وباسو.

موږ ستاسې باور ته اړتیا لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر وویل:

بس الله تعالی دې تاسې ته وس درکړي.

زموږ دعا به تل له تاسې سره وي.

مشر ولاړ.

ساحل ماته وویل:

یاره دا خلک هم ښه کم عقلان دي.

دوکه کوو یې هم موږ او دعاګانې هم موږ ته کوي.

ما ورته وویل:

ګوره ساحله دا پیښه د پخوانیو پیښو په څیر مه ګڼه؛

دا یوه ریښتنې پیښه ده.

هغې وویل:

یاره ته به نو څه وخت پوهیږې.

ته لدې دومره پیښو وروسته هم باور کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دې نړۍ کې پیریان شتون لري.

ګوره یارو داسې وکړه مه خپل وخت بربادوه او مه هم زما وخت بربادوه.

تکړه شه خواري وکړه.

چې دغه د پیري په جامه کې انسان هم ونیسو.

ماته سخته غوصه راغله.

هیڅ مې هم ورته ونه ویل.

خپلې خونې ته ننوتم کومه چې د تسنیم د خوني په خوا کې وه.

د لږ ځنډ څخه وروسته ساحل هم راغی.

پخپل ځای کې اوږد وغځید.

ماته خوب نه راته خو ساحل په ډیر لږ وخت کې د خوب ښاپیرو له ځانه سره بلې نړۍ ته بوت.

خرا یې خته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه ډېره ناوخته وه.

يو ميز بيرون ایښی وو.

راومخیست، دننه مې د لرګینې چوکۍ مخې ته کیښود.

تیار په میز یو لالټین وو.

بل مې کړ.

خپله د يادختونو کتابچه مې راواخیسته.

د ډاکې په تورکي مې پرې د دې سفر د کیسې لیکل شروع کړل.

د شپې داسې درې بجې به وې.

چې د تسنیم د کوټې څخه د تسنیم درروونکې چغې مې تر غوږه شوې.

ورمنډه مې کړه.

دروازه يې قلف وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه خلاصیده، بله لاره نه وه ځنګ ته ترخذ پرته وه.

اوچته مې کړه او قلف ته مې ونیوله.

په دریم ټک سره قلف مات شو.

زر مې د لاټین څراغ ورته بل کړ.

ورته مې وویل:

چې ونه ویریږي، ما خپل دم شروع کړ.

نیماېې ته مې لا نه وو رسولی.

چې د کړکۍ پرده وخوځیده.

تسنیم سخته زیاته ډار شوې وه.

زه پوه شوم، چې دلته له صحیح بلا سره مخ شوي یو.

خو ماسره ساحل لالا نه منله.

تسنیم مې غیږ کې ونیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بیل ډول زړورتوب راته پخپل ځان کې ښکاره شو.

ځکه مخکې چې به هر ځای کې زه له داسې کومې پیښې سره مخ شوم.

نو تر ټولو مخکې به مې خپل ورور ساحل ته ویل!

خو فکر کووم دا ځل کومه بل ډول پیښه وه.

ځکه چې یوازې ورپسې ورغلم.

تسنیم ته مې ډاډ ورکړ.

د هغې په کوټه مې ایت الکرسي او چارقل سورتونه چوف کړل.

او نور ترې راغلم.

چې ومې کتل ساحل راویـخ شوی وو.

ویل یې:

چیرې تللی وې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وویل:

پیش کونډې ما وکتله ساحله!

هغه اوس د تسنیم په کوټه وه.

ساحل حیران شو.

او په قهر یې راته وویل:

نو نیولی بدې وای کنه یاره .

زه به څه وکړم نو ماته بدې غبرګړی وای.

ګوره سبحنه:

پیش کونډې د تسنیم و کوټې ته ورغلې وه، خو چې ته ورغلې هغه ولې وتختیدله؟

ته د دې څواب ماته راکړه.

ما ورته وویل:

خو ما هغه دم شروع کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چې بابا راخودلی وو.

ځکه هغه وتخېدله.

هغه نورهم په غوصه شو، ډېرې سختې سختې خبرې پې وکړې.

چې دا مهال یو دم زمور کوټې ته د تسنیم کشره خور ثنا راننوته.

د ساحل له مخ څخه سورخي والوته.

انجلۍ ورته هکه حیرانه شوه.

ساحل ته پې وویل:

څه خبره ده.

ولې راته داسې برګ برګ ګورې؟

ما ورته وویل:

وبښۍ میرمنې تاسې مور ته څه ویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجلۍ وویل:

همم هو.

بیرون د ټول کلي خلک راغونډ شوي دي.

خور مې واېي چې تاسې ته غږ وکړم.

موږ هم ورووتو.

د ثنا له خولې مې واورېدل.

چې تسنیم ته یې ویل:

خورې ته دلته څه کوې.

رازه ولاړ به شو، استرالیا ته زه تاته ویزه برابرولای شم.

هلته به په کلبونو کې خپلې ساعت تیریانې کوو.

او د ژوند نه به خوند واخلو.

خو تسنیم ورته وویل:

استرالیا دې ډېره خوښېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثنا وورته وويل:

هو.

تسنيم وويل:

نو خپل ورشه هر څه بد چې کوې وکه دا زما هيواد دی.

او دا زما خلک دي.

که څوک مې وژني هم لدې ځايه نه ځم.

او ته به هيڅکله هم کاميابي حاصله نکړې.

چې داسې پليت ذهن لرې.

د ثنا ټنډه تروه شوه.

خلکو خپل حالات شروع کړل.

يو نفر ويل:

پيش کونډې مور ته سخته په غوصه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل یې:

هغه ما لیدلې ده.

د هغه د ښهرې نښانې یې راته داسې وویلې:

هغه تکه توره ښهره لري.

سترګې یې په رانجو دومره تورې وي چې د سړي ورښخه ویره کیږي.

او داسې اوږدې او ښلېدلې جامې لري.

قد یې هم اوږد دی.

همداسې نورو خلکو هم خپلې کیسې وکړې.

ټولو وویل:

چې تاسې دا ښه ډول پیران یاست.

تاسې خو موږ ته هغه پیری په غوصه کړی.

د دوی مطلب د ساحل د پرونیو خبرو ښخه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریشتیا هم ساحل ورته پرون اختارونه ورکړي وو.

ټول له موږ څخه ډیر خوابدي وو.

خو ساحل ورته د لوړ کاڼي په سر ودرید.

او ورته یې وویل:

د کلي خلکو تاسې فکر وکړی.

پیش کونډی چې زما په وینا راتللای شي.

نو زما په وینا بیرته تللای هم شي.

تاسې خوشحاله شی ځکه دا خو ډیره ښه خبره ده.

اوس نو تاسې یې غمه شی، زه تاسې ته وعده درکووم.

چې انشالله یوه هفته کې به ستاسې ټولې ستونزې حل شي.

او بیرته به خپلو روزګارونو ته راوګرځی.

ساحل دا خبرې وکړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته راکیوت ماته یې وویل:

سبحانه !

وس نو باید د دې غمه ژر تر ژره وخورو ځکه چې وعده مې ورسره وکړه.

ډېره خواري مو وکړه.

د کلي په هر نفر باندې وګرځیدو.

هیڅ په لاس رانغلل،

خو یو نفر راته وویل:

چې ستاسې د پلار سره دلته یو بل فرد هم راغلی وو.

هغې ته به ضرور معلومات وي.

د هغه کس کور په ښار کې وو.

ځکه نو زه او ساحل ورپسې ښار ته راغلو.

د موسیقۍ اواز تر ډېر لرې ځایه رسیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډېرو ګرځېدو څخه وروسته مو د هغه کس کور پیدا کړ.

د کور لرګینه دروازه مو ټک ټک کړه.

په لږ وخت کې یوه سپین سرې بوډۍ راووته.

فکر کووم.

د کور نوکره وه.

کور ته یې ننباسلو.

په کور کې یې رنګارنګ بوټي، ګلان او د انګورو تاکونه موجود وو.

مخکې ولاړو.

یو کوچنی دهلیز و.

له هغې څخه ورهاخوا داسې ونې وې، چې روغې روغې مالټې یې په هره ونه کې راځړیدلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بوډۍ څخه مو اجازه واخیسته، یوه مالته مې ورڅخه د ځان لپاره رابیله کړه.

او بله د ساحل ورور لپاره وه.

د دمې په بهانه ورته کښېناستو.

بوډۍ سره چاقو وو.

د چاقو د کېښودو سره سم مالته څیري شوه.

او اوبه ترې وبهېدې.

مالته د ډېرو پښیدو له لاسه سپینه شوې وه.

په هغې سټرېیا کې هغې مالتې بیل خوند وکړ.

د مالتې له خوړولو وروسته د سپین ږیري کوټې ته ننوتؤ.

سپین ږیری صفا توره چپن اچولې وه.

په کټ کې پروت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر زيات ضعيف وو،

تورې چشمې يې په سترګو وې.

سپين ږيري وويل:

تاسې په ريښتيا د شيخ چلي بابا زامن ياست.

ورته مو وويل:

هو

سپين ږيري وويل:

خه نو د ځه لپاره ما پسې راغلي ياست.

موږ ورته وويل:

کاکا جانه!

ډېر وخت مخکې زموږ پلار يو پيری چې پيش کونډي نومېده.

له منځه وړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته خلکو وویل:

چې تاسې سره د هغه پیري په اړه معلومات شته؟

سپین ږیري بغیر له ځنډه وویل:

هو ستاسې پلار په هغه وخت کې د پیري پسې یاد کلي ته ورغلی وو.

خو اصلاً خبره داوه.

چې هغه دغه پیری په یو هډوکي کې بند کړ.

او هماغه هډوکی یې په یو منګي کې واچاوه.

او هغه منګی یې د همدې کلي په یوه زړه ونه کې کېښود.

موږ لدې ځایه راووتو.

ساحل راسره بیا لانجه پیل کړه.

چې ګوره ورورکه دا هر څه درواغ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه درته وایم:

ته صرف پیش کونډي ونیسه.

بیا ګوره چې دا پیښه هم دروغ کیږي او کنه!

راسره یې نه منله.

خو یو رقم مې رازي کړ.

موږ ځنګل ته راغلو.

او د زړې او لویې ونې په لټه کې شوو.

ځنګل مو لټ په لټ کړ، خو زړه ونه پیدا نه شوه.

اخر راباندې شپه شوه.

ما او ساحل ورور له ځنګله د راوتو په حال کې وو چې خیال مې شو، د ځنګل څخه بهر تر ټولو لویه ونه ولاړه وه.

په منډه دواړه ورونه ورغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ونه کې د بوډا له وینا سره سم یو لوی سوری وو.

زه وروختم.

په سوري کې چې مې لاس دننه کړ.

لومړی پکې د کوم الوتونکي وزر ایښی وو.

دوهم مې هم په ډار لاس ورښکته کړ.

دا ځل پکې د کوم حیوان ځرمنه وه.

دریم ځل چې مې لاس ورښکته کړ.

منګی مې لاس ته راغی.

ساحل ته مې په خوشحالۍ وویل:

منګی پیدا شو وروره منګی پیدا شو.

دا چې منګی بند وو نو دېته هم حیران شوو.

چې اصلي پیش کونډي خو بنده ده نو بیرون چې کومه یوه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه دي.

ساحل ته غوصه ورغله.

منګی یې اوچت کړ او بېرته یې ځمکې ته راوویشت.

د منګي زرې زرې لاندې توی شوې.

هډوکی هم پکې راښکاره شو.

ساحل هډوکی اوچت کړ او له غوصه څخه یې د ځنګله ومنځ ته وویشت.

ویل یې:

په دې یې ځایه کارونو خو تا زما دماغ خراب کړل.

اوس دې دغه پیری راشي.

او د کلي خلک دې وویروي.

د لاسه یې ونیوم، او روان یې کړم.

زما سترګې ټیغې ټیغې راوتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل ورور حماقت لرونکې زړه ورتیا ته حیران وم.

کوټې ته یې بوتلم.

سر مې لا ایښی نه وو چې خوب راغی.

یو وخت مې سترګې خلاسې کړې ساحل پخپل ځای کې نه وو.

خدای شته وویریدم، ژر ورپسې بیرون راووتم.

بیرون هم نه وو.

ډیر ورپسې وګرځېدم.

آخر مې وکتل چې د تسنیم د کوټې مخې ته ولاړ وو.

پاس چې مې وکتل!

پیش کوندې وه.

د تسنیم د کوټې پورته ښیښې ته یې پایه ایښې وه.

او پرې ورختلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحل زینه ټیل وهله.

پیش کونډې لاندې راوغورځېدله.

ساحل ورپسې شو، ما هم منډه کړه.

ګورم پیش کونډې هم له موږ څخه منډه کړه.

په لاره کې یو بابا په سایکل راروان وو.

چې پیش کونډې یې ولیدله سایکل یې پرېښود.

پیش کونډې په سایکل کښیناسته.

سخته خندا راغله چې دا لا څه ډول پیری دی.

پیش کونډې بوټو ته ننوته ساحل ماته یوه لاره وښووله.

اوپخپله په بله ولاړ.

زه ډېر زیات ورپسې وګرځېدم.

خو پیدا مې نکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېر ځنډ وروسته راته یوه خونه په نظر راغله چې د کلي په اخر سر کې وه.

دغه خونه له کلي ډېره لرې او د پټو نه شاته په دښته کې وه.

فکر کووم.

دغه خونه چا نه وه لیدلې او زما لومړی ځل وو چې ومې لیدله.

له ښیښې مې پام شو.

په خونه کې پیش کونډې وه.

په ویریدلي انداز ورغلم.

ور مې خلاص کړ!

ومې کتل

یوه انجلۍ او پیش کونډې ساحل ورور د خونې په لویه پایه پورې تړلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چې ورننوتم.

ساحل له خندا شین شو.

ویل یې:

وروركه دا راته ووایه چې نور پدې شیانو باور کوې کنه
.

ما ورته وویل:

ولې څه خبره ده.

ویل یې:

د پیش کونډې له مخې څخه نقاب لرې کړه.

هر کله چې مې نقاب ورڅخه لرې کړ.

ومې کتل یو تور شکله انسان وو.

او انجلۍ د تسنیم شیطاني خور وه.

ثنا !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحل ورته وویل:

خا ثنا جانې دا راتهووایه

ځو روپۍ راکوې چې چاته د دې لوی پیښې کیسه ونکړم.

دا چې د ثنا مشره خور تسنیم وه.

او هغه د ټول کلي مشره وه.

نو ثنا هم ویریدله.

ځکه چې دا ټوله لومه همدې جوړه کړې وه.

تر څو په نیمه شپه کې خلک وویروي.

او خور یې لدې ځایه ورسره بهر ته ولاړه شي.

او همداسې په نیمه شپه کې به له خلکو د ویرې په نوم پیسې وهي.

ما له تور انسان نه پښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا نوم؟

ویې ویل:

زما نوم زوالفقار دی.

بیا مې ورته وویل:

په هغه شپه ولې د تسنیم خونې ته راغلی وې.

ویل یې:

په هغې شپه ما خپلې مشرې څخه پوښتنه ونکړه.

ولاړم.

او د ځان لپاره مې د تسنیم له کوټې غلا وکړه.

بیا مکې ورته وویل:

دا خلک نو څنګه له تا ویریږي.

ویل یې:

د هر نفر نه مې یو ځل یو څه پټ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ورسره مخامخ شوی یم.

بیا مې ورته وویل:

هغه انجلۍ چې تا د بر کلي له تشنابه تختولې .

ویل یې:

هغه اوس هم ژوندۍ ده.

او د هماغې ښځې په ضریعه راباندې تاسې هم باور وکړ.

اوس نو پوره پوه شوم.

چې څه کیسه ده.

خو مشکل دا وو.

چې ساحل اصلي پیش کونډې ازاده کړې وه.

ثنا ته مې وویل:

چې هغه خونه راته وښایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومه کې چې دې ټول غلا شوي شیان ایښي.

د کوټې شاته یې اشاره وکړه.

زه او ساحل ورغلو.

ریښتیا هم قیمتي قیمتي څیزونه یې پدې ځای کې ځای پر ځای کړي وو.

مسیح وویل:

هلکه دغه دی راورسېدو.

زه کیسې ته په تمه وم.

خو چا یې اوریدو ته نه پریښودم.

آخر په بامیانو کې د یوه لوړ غره څوکې ته وختو.

د مهال په بامیانو کې وریځ وه او یو څو د باران څاڅکې هم پر ځمکه لګیدلي وو.

لدې غره څخه ټوله بامیان ښار معلومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمت سبحان ته وویل:

ښه کیسه کوه.

سبحان وویل:

ساحل راته وویل:

وروركه دا ډېر زيات مال دی.

او مور به لدې غلا څخه وروسته نور له هر څه څخه توبه وکړو.

او په دې پیسو به ځانته ښکلی ژوند جوړ کړو.

ما ورته وویل:

ګوره وروره خدای ته به څه ځواب ورکوو.

زه منم چې مور د دوکه بازو خلکو نیول کوو.

خو داسې هم نشي کېدای چې دومره لویه غلا وکړو.

خلاصه دا چې زما او د ساحل شخړه راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دا کار هم رابانديې په زور کاوه.

خو ما ټیل وهه او ورته ومې وویل:

زه نور هېڅکله هم ستا خبره نه منم.

ساحل ووسل:

ته خبر یې زما هغه وخت نه هیریږي.

چې زمونږ بابا د سرکښو له خوا ووژل شو.

تاته هیڅ د دې معلومات نه کیږي چې ته ما څومره په سختۍ تر دا دمه له سرکښو ژغورلی یې.

دا د دې معلومات هم نه کیږي، چې ما به سپوره ډوډۍ خوړه او تاته به مې شیدې پیدا کولې.

ستا لپاره ما سپي پاک کړل.

تر څو ته تعلیم وکړې خپل ژوند جوړ کړې.

خو تا تعلیم ونکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ورځ بدې استاذ خط رالیګه چې ورور دې له ښوونځي څخه پټیږي.

آخر مې له ځانه سره راوستې دلته مې د شیخ چلي بابا زیارت کې رالوی کړې.

په دغسې روزګار پسې خلک سر ماتوي.

تاته مې همداسې پیدا کړی.

د دې سربیره هم تا نن زه ټیله کړم.

هغه زه پریښودم.

انجلۍ او ذوالفقار یې له ځانه سره کړل.

او ولاړ خو نه پوهیږم د نیم ساعت وروسته راغی.

او ویل یې:

چې وروره ته په حقه وې.

ما پخپلو سترګو پیریان ولیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه حيران شوم.

چې دا څه پرې وشول.

زه تر ډېره وخته د دې خبرې په معنا نه پوهېدم.

خو وروسته راته معلومات وشول چې ساحل د ځنګله په منځ کې څه ليدلي وو.

او دا د مرګ له ګواښ څخه ژغورل شوی وو.

د ورور سره مې يو ځای خبره جوړه کړه.

تر څو لکه د نورو پيښو په څېر دغه پيری هم له دغه انجلۍ څخه وباسو.

د ټول کلي خلک راټول شول، زه او ساحل ورور د پيري سره په خوا کې کيناستو.

هغه پيری چې دوکه وه.

د ټول کلي په مخ کې ساحل له پيري سره خبرې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيري وعده وکړه چې نور به د دغه کلي خلک نه زوروي.

د دې هر څه مطلب دا وو، چې تر څو د کلي خلک د تسنيم د خور په دوکه خبر نشي.

او زموږ ګټه دا وه.

چې د تسنيم خور راته ډيرې پيسې راکولې.

زما دا کار خوښ نه وو، خو بله چاره نه وه.

د دې کلي څخه پيش کونډي د تل او تل لپاره ورکه شوه.

خو اصلي څيز ساحل پريخی وو.

سبحان کيسه راغونډه کړه.

او ويې ويل:

يوه ورځ اصلي پيري تسنيم ونيوله.

ما سره بل هيڅ هم نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بغیر له یو دم ځخه چې بابا نه مې زده کړی وو.

چې په هغې سره یو پیری د یو نفر نه وچیږي او په بل انسان کیني.

ما سره بله لار نه وه.

بس په تسنیم مې هغه دم چوف کړ.

د تسنیم له وجود ځخه پیری ووت.

مګرله هغې وروسته تسنیم په هوښ رانغله.

ما هغه روغتون ته بوتلله.

خو روغتون کې یې وویل:

چې تسنیم مړه شوې ده.

ساحل د تسنیم د خور ثنا سره واده وکړ.

هغه له ما بیل اوسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هره ورځ يو ځل زما سره د ليدلو لپاره ضرور وباسي.

زه ترې ډېر خوشحاله يم.

له هغې وروسته زه په دغه مرض واوړېدم.

او تر اوسه پورې په دغه مرض اخته يم.

مور. د لوړ غره پر سر ناست وو.

د سبحان تر سترګو اوښکې توېې شوې.

ويل يې:

کاش زه هم لکه د ساحل په څېر خپلې مينې ته رسيدلی وای.

دا وخت سبحان ته زنګ راغی؟

هغه اوچت کړ.

چې ويې ليدل د ساحل زنګ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور ټول غلي شو.
ساحل ډېر زیات وار ختا وو.

د سبحان موبایل داسې وو چې غږ یې پورته وو.

مور هم اوریده، ساحل سبحان ته وویل:

سبحانه چیرته یې؟

ژر راشه چې زموږ کور ته تسنیم راغلې ده.

سبحان ورته وویل:

دا څه وایې؟!

سبحان په ترپکو شو، د غره په سر یې څو لوی لوی ټوپونه ووهل.

بیا یې د یو ځای کړو پیسو څخه یو څه برخه واخیسته.

او خپل کور ته روان شو.

په بامیانو کې مو یو اطاق کرایه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شپه مو دلته تیره کړه.

او په سبا یې موږ هم بیرته خپل کور ته راغلو.

پای

"

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب نوم:

د مینانو پیر

لیکوال:

سیدادریس (سادات)

د اړیکو شمیرې:

۰۷۳۱۳۶۳۲۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**